# د ډرایورۍ لایسنس د ټولو لپاره
# مکرر پوښتل کیدونکي پوښتنې

## د ډرایورۍ لایسنس د ټولو لپاره (DL د ټولو لپاره) به کله پیل شي؟

- د مینیسوټا ټول اوسیدونکي کولی شي د اکتوبر له 1 نیټې څخه په پیل سره د DL د ټولو لپاره قانون لاندې لایسنس لپاره غوښتنه وکړي. دا قانون د دایمي قانوني وضعیت نلرونکي مهاجرینو ته لاره برابروي چې د مینیسوټا د ډرایورۍ معیاري لایسنس یا پیژند کارت ترلاسه کړي.

## زه کله کولی شم د ډرایورۍ لایسنس یا ID کارت لپاره د غوښتنه کولو لپاره ملاقات واخلم که زه د مهاجرت اسناد ونلرم؟

- د سپټمبر 2 څخه په پیل سره، اوسیدونکي کولی شي د اکتوبر 1 یا وروسته وخت لپاره ملاقات واخلي. د ډرایور او وسایطو خدمتونو (DVS) موقعیتونو لپاره آنلاین مهالویش په drive.mn.gov کې د "ملاقات" برخې لاندې موجود دی.

## زه کومو اسنادو وړاندې کولو ته اړتیا لرم؟ آیا زه کولی شم په یوه بله ژبه کې اسناد راوړم؟

- **دوه اسناد چې ستاسي مکمل نوم او د زیږون نیټه پکې لیکل شوي وي. د انګلسي پرته په نورو ژبو کې اسناد باید د تصدیق شوې ژباړې سره مل وي. د اکتوبر په 1 د DL د ټولو لپاره اړین اسناد [د DL د ټولو لپاره ویب پاڼه](drive.mn.gov) drive.mn.gov کې لیست شوي دي. په پورته کیڼ څنډه کې "DL FOR ALL" (DL د ټولو لپاره) کلیک کړئ.**

## زه ولې باید د مرستې یا د غوښتنلیکونو، ملاقاتونو، لایسنسونو یا Ids پروسس کیدو لپاره تادیه وکړم؟

- د مینیسوټا ایالت قانوني فیسونه ټاکلي دي. یوازې DVS د ډرایورۍ لایسنس یا ID فیس پورې کولو مجاز دي. د درغلۍ یا مجرمینو په اړه پام کوئ – په ځانګړي توګه آنلاین. مشروع فیسونه او موقعیتونه دلته [drive.mn.gov](drive.mn.gov) ومومئ.

## آیا زه کولی شم د ډرایورۍ لایسنس د مهارتونو (سړک) ازموینې ته ژباړونکی راوړم؟

- ژباړونکی کولی شي د مهارتونو (سړک) ازموینې څخه مخکې او وروسته د ازموینه ورکونکي او د DVS ازموینه اخیستونکي سره وګوري. د ډرایورۍ پرمهال د خوندیتوب مسایلو له امله، د مینیسوټا قوانین د ازموینه ورکونکي او د ازموینه اخیستونکي پرته کوم بل چا ته اجازه نه ورکوي په موټر کې کښیني.

DVS Driver & Vehicle Services

## د تابعیت وضعیت په پام کې نیولو پرته یو چا ته په مینیسوټا کې د ډرایورۍ لایسنس یا ID کارت ترلاسه کولو اجازه ورکولو څه فایدې دي؟

- د DL د ټولو لپاره موخه د خوندي سړکونو او ټولنو رامینځته کول و.
- ډرایوران ازمول کیږي چې د سړک قوانین او مقررات وپیژني او پدې پوهه شي چې څنګه په خوندي ډول موټر وچلوي.
- که چیرې پیژند ولري د دې احتمال ډیر دی چې ډرایوران د ټکر یا پیښې صحنه کې پاتې شي ترڅو د پولیسو/EMT یا د بیمې تبادلې معلوماتو سره مرسته وکړي.
- د قانون نافذونکي کولی شي لاډیر په دقت سره د هغه خلکو هویت او د ترافیک/لایسنس ریکارډ وګوري څوک چې په صحنه کې پاتې وي.
- دا قانون به ډیری بې اسناده اوسیدونکو ته، څوک چې کار او ښوونځي ته په موټر کې تګ او راتګ کوي، لاره برابر کړي چې د ډرایور لایسنس واخلي او ثابت کړي چې هغوی خوندي ډرایوران دي او د موټر بیمې لپاره شرایط پوره کړي.
- د غیربیمه شوي موټروانانو د لګښتونو راکمیدو له امله ممکن د بیمې نرخونه راکم شي.

## آیا زه د ID سره پیل کوم، بیا جواز اخلم، بیا وروسته د ډرایورۍ لایسنس؟

- نه. ID یوازې د پیژندنې یا هویت موخو لپاره ده. د ID لپاره هیڅ لږترلږه عمر حد موجود ندی. د جواز معنی دا ده چې یو فرد د پوهې ازموینه ورکړې او لاهم زده کوي چې څنګه ډرایوري وکړي. د موټر چلولو پرمهال په جواز لرونکي ډرایورانو محدودیتونه شتون لري پشمول د لایسنس لرونکي ډرایور درلودل. د ډرایورۍ لایسنس وروسته لدې ترلاسه کیږي چې د پوهې تحریري ازموینه او د مهارتونو (سړک)ازموینه پاس کړئ.

## تحریري ټیسټ په کومو ژبو کې موجود دی؟

- د DVS موقعیتونو کې لاندې ژبو کې موجود دی: انګلسي، هسپانوي، همانګ، ویتنامي، سومالي، امریکایی اشاري ژبه، روسي او کارن.

## آیا مهاجرین باید د ایستل کیدو، په عذابیدو یا د قانون تنفیذ چارو مداخلت په اړه اندیښنه ولري که چیرې لایسنس ترلاسه کوي یا DVS ته ورځي؟

- نه. د کارت پیژندنه د ټولو مهاجرینو لپاره، پشمول د کډوالو، زده کونکو او ویزه لرونکي کارګرانو. د ډرایورۍ معیاري لایسنس یا ID به د قانوني حضور نلرونکي یو چا لپاره هماغسې ورته وي لکه د قانوني چضور لرونکي افرادو لپاره چې وي. د قانون نافذونکي ادارو لپاره به کوم داسې میتود موجود نه وي چې د معیاري لایسنس له مخې د مهاجرت وضعیت وپیژني. د DL د ټولو لپاره قانون په ځانګړې توګه وایی چې DVS به د تابعیت/مهاجرت وضعیت د هغه ادارو سره شریک نکړي کومې چې د مهاجرت قانون پلي کوي غیرلدې که د محکمې لخوا یې امر وشي.

## آیا د DL د ټولو لپاره معیاري لایسنس سره به خلک وکولی شي د رایه ورکولو لپاره نوم لیکنه وکړي یا رایه ورکړي؟

- نه. د فدرالي قانون له مخې یوازې د امریکا متحده ایالاتو اتباع د رایه ورکولو اجازه لري. پدې لایسنسونو به واضح لیکل شوي وي "Not for Federal Identification" (د فدرال هویت پیژندنې لپاره ندي) ترڅو د رایه ورکولو لپاره نوم لیکنې او رایه ورکولو کې یې مخه ونیول شي. د اوسني قانون له مخې که چیرې تاسې د رایه ورکولو لپاره په شرایطو برابر نه اوسئ او رایه ورکړئ نو دا جنایی جرم دی.
- د ډرایورۍ لایسنس د ټولو لپاره د رایه ورکولو لپاره د نوم لیکنې شرایط نه بدلوي. د رایه ورکولو لپاره د نوم لیکنې لپاره تاسې باید ټول شرایط پوره کړئ، پشمول د امریکا متحده ایالاتو تبعه باید اوسئ. د رایه ورکونکي د نوم لیکنې شرایطو په اړه نور معلومات تاسې دلته موندلی شئ. د اوسني قانون له مخې که چیرې تاسې د رایه ورکولو لپاره په شرایطو برابر نه اوسئ او رایه ورکړئ نو دا جنایی جرم دی.

## که چیرې زما د لنډمهاله اوسیدو اسناد د 2023 اکتوبر په 1 یا لدې وروسته انقضاء شي، آیا د مینیسوټا د ډرایورۍ لایسنس/ID بیاځل نوي کولو لپاره به زه اړ اوسم د لنډمهاله اوسیدو نوي اسناد وسپارم؟

- نه. د اکتوبر په 1 به د DL د ټولو لپاره قانون نافذ شي، او د مینیسوټا معیاري لایسنس نوي کولو لپاره به نور د لنډمهاله اوسیدو اسنادو ته اړتیا نه وي. یوازې په هغه صورت کې که تاسې REAL ID لرئ یا غواړئ د دې لپاره غوښته وکړئ نو بیا اړ یې د خپل غوښتنلیک سره خپل د لنډمهاله اوسیدو اسناد وسپارئ.

## که زه ونه غواړم زما د ټولنیز مصؤنیت لمبر DVS ته ورکړم نو څه کیږي؟

- د فدرال قانون له مخې DVS د ټولنیز مصؤنیت شمیرو لپاره په شرایطو برابر افرادو څخه د ټولنیز مصؤنیت شمیرې ترلاسه کوي.

## آیا DL د ټولو لپاره به بې اسناده یا اسناد نلرونکي خلک قانوني کړي؟ آیا دا د تابعیت ورکولو یوه بله لاره ده؟

- نه. د مینیسوټا ID یا د ډرایورۍ لایسنس د تابعیت ثبوت ندی او کله چې د اکتوبر په 1 نیټه پلي شي نو DL د ټولو لپاره به هم د تابعیت ثبوت نه وي. قانون د مینیسوټا اوسیدونکو ته اجازه ورکوي د یو لومړني یا اساسي او ثانوي سند (یا دوه اساسي اسناد) په وړاندې کولو سره پیژند ترلاسه کړي. د DL د ټولو لپاره د اساسي او ثانوي شرایط اپډیټ کړي دي پدې توګه چې یو فرد کولی شي د قانوني حضور ثبوت وړاندې کړي او یا یې حذف کړي.

## د نوي قانون لاندې صادر شوی د ډرایورۍ لایسنس به څومره وخت لپاره اعتبار ولري؟

- د ډرایورۍ معیاري لایسنس بیاځل نوي کولو دوره هر څلور کلونه دي. معیاري ID د عمر پربنسټ توپیر لري.

## آیا زه باید د اکتوبر 1 پورې انتظار وکړم که زه د مهاجرت پیرول وضعیت کې اوسم؟

- که تاسې د امریکا متحده ایالاتو کې پرېښودل شوي یې، د قانوني حضور جواز درکړل شوی وي او هغه څه ولرئ چې د اساسي سند په توګه منل شوی وي (پدې وضعیت کې افراد اکثر بهرنی پاسپورټ او I-94 لري چې "Parole" (پیرول) د هغوی د وضعیت په توګه څرګندوي او ورسره د پیرول د پای نیټه هم ذکر شوې وي)، تاسې اړ نه یې چې انتظار وکړئ. اوسني اساسي او ثانوي اسناد (تر هغه پورې چې DL د ټولو لپاره پلي شي) دلته لیست شوي دي.

## که زه بې اسناده اوسم او د ډرایورۍ لایسنس ولرم چې پدې وروستیو کې انقضاء شوی وي – آیا DVS کولی شي ما ته یې بیرته نوی کړي؟

- که چیرې یو فرد اوسمهال قانوني وضعیت نلري، DVS هغه یا هغې ته د ډرایورۍ لایسنس، جواز یا ID صادرولو څخه منع دی. دا به د اکتوبر په 1 بدل شي. پدې وضعیت کې افراد د خپل لایسنس ترلاسه کولو په موخه باید د اکتوبر 1 لپاره چمتو والی ونیسي.

## د بل ایالت یا هیواد څخه د ډرایورۍ لایسنس په کارولو سره زه په مینیسوټا کې د څومره وخت لپاره ډرایوري کولی شم؟

- کله چې تاسې د مینیسوټا اوسیدونکی شئ تاسې 30 ورځې وخت لرئ چې خپل د ډرایورۍ لایسنس مینیسوټا ته واړوئ.

## ما په یو غوښتنلیک، ID یا لایسنس کې د انفرادي مالیه ورکونکي پیژند لمبر (ITIN) یا ناسم جعلي یا د کوم بل چا د ټولنیز مصؤنیت لمبر کارولی دی. زه دا څنګه لیرې کړم؟

- ساده ځواب یې دا دی چې د اکتوبر 1 پورې انتظار وکړئ او بیا د خپلو اساسي او ثانوي اسنادو سره د DVS دفتر ته ورشئ. کله چې تاسې خپل لایسنس یا ID لپاره غوښتنه کوئ او د DVS کارمندان پوښتنه وکړي ستاسې د ټولنیز مصؤنیت لمبر څه دی، هغوی ته ووایی چې تاسې یې نلرئ. کارمند به بیا ستاسې د اساسي او ثانوي اسنادو د لیدو غوښتنه وکړي ترڅو یې په سیسټم کې ثبت کړي. کله چې کارمند ستاسې د ټولنیز مصؤنیت لمبر لپاره غوښتنه وکړي خپل ITIN مه لیکئ. دا به زموږ سیسټم کې د تیروتنې لامل شي او تاسې به غوښتنه کولو ته اجازه ونلرئ.

## ما مخکې د ډرایورۍ لایسنس لپاره داسې معلومات کارولي چې زما ندي، اوس څه؟

- کله چې تاسې غوښتنه کوئ پدې اړه د DVS کارمند ته خبر ورکړئ ترڅو وکولی شي ریکارډ مدغم کړي. مهرباني وکړئ د مینیسوټا بې اعتباره ډرایورۍ لایسنس یا ID کارتونه د DVS کارمند ته ورکړئ. DVS سپارښتنه کوي پدې وضعیت کې موجود خلک باید د DVS یوه موقعیت ته ورشي ترڅو کارمند وکولی شي د ادغام لیږد په مناسب ډول مکمل کړي او مناسب اداري سرچینې یې په چوپړ کې وي.

## آیا زه به د ډرایورۍ داسې لایسنس یا ID ترلاسه کړم چې د وضعیت چیک/لنډمهاله اوسیدو نیټه ورباندې نه وي؟

- د اکتوبر 1 څخه په پیل سره، د ډرایورۍ معیاري لایسنس یا ID کې به د وضعیت چیک موجود نه وي. د ډرایورۍ معیاري لایسنس یا ID کې به د لایسنس په مخ د "Not for Federal Identification" (د فدرال هویت پیژندنې لپاره ندی) لیکل موجود وي.

## آیا نوی قانون به د ډرایورانو یوه ځانګړې طبقه رامینځته کړي؟

- نه. موخه دا ده چې ټول ډرایوران د سړک قوانین او مقررات وپیژني او وکولی شي په خوندي ډول ډرایوري وکړي. زموږ ټولنو کې د لایسنس لرونکي، روزل شوي، بیمه شوي ډرایورانو درلودل به موږ ټول خوندي کړي.

## که زه ونشم کړی د اکتوبر 1 څخه وروسته ټول اړین اسناد وړاندې کړم، مګر زما د اسنادونو ترلاسه کیدل پروسس کې وي، آیا زه بیاهم کولی شم د ډرایورۍ لایسنس یا ID لپاره غوښتنه وکړم؟

- هغه افراد چې نشي کولی یا اساسي یا ثانوي اسنادو لپاره د غوښتنې پروسې په حالت کې وي کولی شي د DVS متغیر پروسې له لارې غوښتنه وکړي. د متغیر فورمې په drive.mn.gov کې موندلی شئ

## آیا کله چې تاسې خپل د ډرایورۍ لایسنس لپاره غوښتنه کوئ بیمې اړینه ده؟

- د ډرایورۍ لایسنس لپاره د غوښتنه کولو پرمهال د بیمې ثبوت اړین ندی. **د بیمې ثبوت هغه مهال اړین دی کله چې تاسې د سړک ازموینه ورکوئ او کله چې د خپل موټر لپاره سټیکر نوی کوئ**، مګر د ډرایورۍ لایسنس لپاره غوښتنلیک ورکولو پرمهال اړین ندی. یاددښت: که تاسې د مینیسوټا ایالت کې موټر چلوئ، تاسې اړ یې چې بیمه اوسئ.

## د ډرایورۍ لایسنس یا د پېژند کارت لپاره مخکې کارول شوي مستعار نومونو د ښکاره کولو په اړه باید زه څه وکړم؟

- کارول شوي مستعار نومونو په اړه باید DVS ازمویني مرکز ته راپور ورکړل شي. خپل اساسي او ثانوي اسناد د DVS کارمندانو ته ویسئ چې وې ګوري، او همدارنګه په بل نوم د ډرایورۍ لایسنس یا د پېژند کارت (کارتونه) کله چې د مستعار نومونو راپور ورکوئ. د DVS کارمند ته خپل اسناد ورکړئ او د مخکې کارول شوي مستعار نومونو په اړه چې کوم معلومات تاسې لرئ هغه ورکړئ. DVS به یوه اساسي ریکارډ کې د مخیني مدغم کولو لپاره کار وکړي. د مخینو او ریکارډ مدغم کول د یوه فرد لپاره د یوه ریکارډ درلودلو ته لاره برابروي. د یوه فرد لپاره د یوه ریکارډ لرل زموږ د ریکارډ ساتلو سیسټم روښتیا ډاډمنوي.

## آیا زه د مینیسوټا ډرایورۍ لایسنس ترلاسه کولو ته اړتیا لرم که چیرې زه په کرونده کې موسمي کار کوم او کروندو ترمینځ ډرایوري کوم مګر په مینیسوټا کې د دایمي اوسیدو اراده نلرم؟

- نه، که تاسې په خپل کوربه هیواد یا ایالت کې قانوني لایسنس لرئ او د ډرایورۍ پرمهال تل دغه لایسنس د ځان سره ولرئ، تاسې کولی شئ د بزګرۍ ټریکټر یا د یوې کروندې څخه بلې کروندې ته پیک اپ ټرک وچلوئ او د مینیسوټا لایسنس ته اړتیا نلرئ. دا یوازې په هغه صورت کې که تاسې په مینیسوټا کې د دایمي اوسیدو اراده نلرئ.

## په کومو بیلابیل طریقو یا لارو زه کولی شم زما د ډرایورۍ امتیازات له لاسه ورکړم؟

- د مینیسوټا قوانینو او مقرراتو کې د ډرایور د امتیازاتو له لاسه ورکولو څو سطحې موجود دي:
  - ځنډول یا تعلیق د لنډمهال لپاره د ډرایورۍ امتیازاتو له لاسه ورکول دي.
  - لغو کیدل په بشپړ ډول د ډرایورۍ امتیازاتو له لاسه ورکول دي.
  - ردول د DVS د ډرایورۍ امتیازاتو اخیستل شي.
  - ردول او انکار کول د الکولو/نشه بیز توکو پورې اړوند اقداماتو له امله د DVS لخوا د ډرایورۍ امتیازاتو اخیستل دي.
  - د صلاحیت سلب کول د DVS لخوا د سوداګریز ډرایورۍ امتیازاتو اخیستل دي.
  - بشپړ قانوني تعریفونه د مینیسوټا 7409.0100 او 7503.0100 مقرراتو کې موندلی شئ.

## نورې پوښتنې؟

- drive.mn.gov ته ورشئ او د پاڼې لاندې برخه کې د HELP تڼۍ کلیک کړئ. تاسې کولی شئ په انګلسي، هسپانوي، همانګ او سومالي کې پوښتنې وکړئ.